
# د عمرې

# لارښود



مؤلف: حمدالله «شاکري»


بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

لومړی څپرکی.................................................................6
تعریف، فضیلت او حکم ......................................................6
تعریف: .........................................................................6
د عمرې فضیلت...............................................................6
د عمرې حکم .................................................................8
د عمرې وخت..................................................................9
د فرضي حج څخه مخکې عمره او د هغه تکرارول....................9
د نورو د پاره عمره ادا کول څه حکم لري ؟ ...........................10
د عمرې د ادا کولو لنډه نقشه...........................................12
دویم څپرکی .................................................................13
د احرام احکام او مسائل ..................................................13
د حرمینو په لورې سفر او د احرام تړل...............................13
دویم- د احرام تړلو سنته طریقه .......................................17
د احرام د صحت شرطونه...............................................19
د احرام واجبات ...........................................................19
د احرام سنتونه ...........................................................19
د احرام مستحبات .......................................................20
د احرام ممنوعات .......................................................20

د احرام مکروهات ........................................................ 26
څو ضروري او مهم مسائل ................................................ 27
دریم څپرکی ................................................................ 29
د عمرې دویم عمل طواف ................................................... 29
د طواف کولو فضیلت ....................................................... 29
د طواف کولو مسنونه طریقه .............................................. 30
د طواف شرطونه ........................................................... 33
په طواف کې واجبات ....................................................... 34
د طواف سنت ............................................................... 34
کوم څیزونه چې په طواف کې منع او حرام دي .......................... 35
په طواف کې مکروهات ...................................................... 36
په مقام ابراهیم کې لمونځ ................................................. 37
ضروري مسائل ............................................................. 38
څلورم څپرکی .............................................................. 42
د صفا او مروه ترمینځ سعي .............................................. 42
د سعي د مشروعیت حکمت ................................................ 42
د سعي د ادا کولو طریقه ................................................... 44
د سعی واجبات ............................................................. 47
مکروهات ................................................................... 47
ضروري مسائل ............................................................. 47

پنځم څپرکی........................................................................ 49
حلق او تقصیر ( د سر خریل او لنډول)............................................... 49
که څوک په حج کې د مرض له کبله سر نشي خریلای ................................ 51
د عمرې د ادا کولو خلاصه ........................................................... 53
شپږم څپرکی........................................................................ 56
د مدینې منورې زیارت............................................................... 56
د مسجد النبي د زیارت آداب ........................................................ 57
څو مهم وصیتونه...................................................................... 61

# سریزه

الحَمْدُ لله رَبِّ العَالَمِينَ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى سيَّد الأَنْبِياءِ وَالمُرْسَلِينَ،سَيِّدِنا مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَالتّابِعِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ.، أما بعد:

ورونړو او خویندو ! عمره او حج هغه عبادت دی چې په هغه کې بنده خپل مال او بدني طاقت دواړه صرف کوي، خپل کور او اهل پرېږدي او سفر کوي چې چا ته په ټول عمر کې يو ځل او چا ته په کال کې يو ځل د دغه سفر زمينه برابرېږي.

د هر عبادت د قبلېدو لپاره دوه شروطونه دي:

الف: اخلاص لله تعالى.

ب: اتباع رسول الله صلى الله عليه وسلم.

د اتباع رسول الله څخه مطلب دا دی چې عبادت به د اسلامي شريعت د حکم او طريقې موافق وي، د عبادت د حکم او طريقې پېژندلو لپاره علم شرط دی، نو اړينه ده چې عمرې او حج ته تلونکی د عمرې يا حج مناسک پوره زده کړي.

دغه (د عمرې د احکامو مختصر کتاب) د عمرې په ټولو ضروري او اړينو احکامو او مسائلو مشتمل دی، دغه کتاب مې وروسته له هغه

ولیکلو چې کله مو په اکاډیمي اسلامي کې د حج مناسک په تفصیل ولوستل، دا چې علم امانت دی نو ځمکه دغه رساله ترتیب کړه.

ددې کتاب په لیکلو کې ډیر کوښښ دا شوی دی چې احکام یې داسې مختصر، ساده، عملي او عام فهمه وي چې هر څوک په آسانۍ سره ورځني اخذ وکړای شي.

په دغه کتاب کې صواب د الله تعالی د جانبه دی او که څه خطاء پکې وي هغه به زما خطاء وي چې د هغه بښنه غواړم.

# لومړی څپرکی

## تعريف، فضيلت او حکم

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العالمين، اللَّهمَّ صلِّ وسلم وبارك، على عبدك ورسولك محمدٍ، وعلى آله وصحابته أجمعين، وعلى من تبعهم بإحسانٍ إلى يوم الدين.

**تعريف:**

عمره په لغت کې زيارت او ارادې کولو ته وايي.

په اصطلاح کې د الله تعالی لپاره عبادت دی د کعبې څخه په طواف کولو، د صفا او مروا تر مينځ سعی او د سر خريلو او يا لنډول.

**د عمري فضيلت**

**۱- د ګناهونو کفاره:**

له ابی هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:«العمرة إلى العمرة كفارة لما بينهما....» (رواه البخاری ومسلم ).

ژباړه: يوه عمره تر بلې عمرې (د دوو عمرو تر مينځ ګناهونو) لپاره کفاره ده.

**۲- د دعا قبلېدل:**

له حضرت ابی هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «الْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ، وَإِنِ اسْتَغْفَرُوهُ غَفَرَ لَهُمْ» (رواه ابن ماجه).

ژباړه: حاجيان او عمره کوونکي د الله ميلمانه دي که هغوی الله تعالی ته دُعا وکړي هغه يې قبلوي (ځکه چې د ميلمه خواهش ضرور پوره کيږي) او که هغوی د الله تعالی څخه عفوه وغواړي هغوی ته به بخښنه وکړي.

**۳- په رمضان کې عمره کول د حج برابر ثواب لري:**

له ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:«عمرة فی رمضان تعدل حجة- أو حجة معي» (متفق علیه).

ژباړه: په رمضان کې عمره د حج سره برابره ده او يا داسې ثواب لري لکه زما سره يې چې يو ځای حج کړی وي (داسې لکه د جناب نبی کريم صلی الله علیه وسلم سره يې چې يو ځای حج کړی وي).

**۴- د رزق پراخوالی:**

له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:«تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ

الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلاَّ الْجَنَّةُ»

(رواه أحمد والترمذي وابن خزيمة في صحيحه).

ژباړه: تعقیب او پیوسته والی وکړئ د حج او عمرې په مینځ کې ځکه دوی دواړه فقر او ګناهونو داسې ولې او له مینځه وړي لکه د اور تازه کولو پښ چې اوسپنه، سره زر او سپین زر ولې کوي.

**په دې سفر کې بل لوی فضیلت څه دی ؟**

په مسجد الحرام کې یو لمونځ په جماعت سره ادا کول د یو لکو لمونځونو ثواب لري.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«صَلاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَفْضَلُ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ صَلاةٍ فِيمَا سِوَاهُ» (رواه احمد و ابن ماجه).

ژباړه: په مسجدالحرام کې یو لمونځ د نورو جوماتونو په پرتله د یو لکو لمونځونو اجر لري.

**د عمرې حکم**

عمره د جمهورو فقهاؤ په نزد په ټول عمر کې یو ځل سنت مؤکد ده قَوْلُهُ: (وَالْعُمْرَةُ سُنَّةٌ ) أَيْ مَنْ أَتَى بِهَا مَرَّةً فِي الْعُمُرِ فَقَدْ أَقَامَ السُّنَّةَ

لقول عليه السلام: { الْحَجُّ فَرِيضَةٌ وَالْعُمْرَةُ تَطَوُّعٌ } (الهداية وفتح القدير ٢ / ٣٠٦).

ذَهَبَ الْمَالِكِيَّةُ وَأَكْثَرُ الْحَنَفِيَّةِ إِلَى أَنَّ الْعُمْرَةَ سُنَّةٌ مُؤَكَّدَةٌ فِي الْعُمُرِ مَرَّةً وَاحِدَةً وَذَهَبَ بَعْضُ الْحَنَفِيَّةِ إِلَى أَنَّهَا وَاجِبَةٌ فِي الْعُمُرِ مَرَّةً وَاحِدَةً (الموسوعة الفقهية ج ٣٠ ص ٣١٤).

**د عمرې وخت**

عمره د کال په هر وخت کې ادا کیږي هغه که د حج میاشتې وي او یا نورې.

د احنافو رحمهم الله په نزد د عرفې په ورځ، د اختر په ورځ او د اختر وروسته د تشريق دريو ورځو کې عمره ادا کول مکروه تحريمي دي ځکه دغه ورځې د حج لپاره ټاکل شوې دي.

اتفق العلماء على أن العمرة تجوز في أي وقت من أوقات السنة، في أشهر الحج وغيرها. ويكره فعل العمرة كراهة تحريم عند الحنفية في يوم عرفة (الوقفة) ويوم النحر (العيد) وأيام التشريق الثلاثة عقب العيد؛ لأنها أيام الحج، فكانت متعينة له (فقه الاسلامي وادلته ).

**د فرضي حج څخه مخکې عمره او د هغه تکرارول**

مشهور روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د حج څخه

مخکې درې ځله عمره کړې ده همدارنګه په يو کال کې د عمرې تکرار او ځو ځله عمره ادا کول د جمهورو فقهاؤ په نزد جايز دي همدارنګه د فرضي حج څخه مخکې عمره ادا کول جايز دي، مګر د عمرې په ادا کولو سره حج نه ساقطيږي، ځوک چې د حج توان لري هغه بايد فوراً خپل نوم ثبت کړي او نبت ته منتظر شي ځکه چې د عذر پرته د حج ځنډول ګناه ده.

جاء في موسوعة الفقهية:

يُسْتَحَبُّ الإِكْثَارُ مِنَ الْعُمْرَةِ، وَلا يُكْرَهُ تَكْرَارُهَا فِي السَّنَةِ الْوَاحِدَةِ عِنْدَ الْجُمْهُورِ ( الْحَنَفِيَّةِ وَالشَّافِعِيَّةِ وَالْحَنَابِلَةِ) وَهُوَ قَوْلُ عَلِيٍّ وَابْنِ عُمَرَ وَابْنِ عَبَّاسٍ وَأَنَسٍ وَعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهُمْ وَعَطَاءٍ وَطَاوُسٍ وَعِكْرِمَةَ رَحِمَهُمُ اللَّهُ، وَتَدُلُّ لَهُمُ الأَحَادِيثُ الْوَارِدَةُ فِي فَضْلِ الْعُمْرَةِ، وَالْحَثِّ عَلَيْهَا، فَإِنَّهَا مُطْلَقَةٌ تَتَنَاوَلُ تَكْرَارَ الْعُمْرَةِ تَحُثُّ عَلَيْهِ (الموسوعة الفقهية ٣٢٥/٣٠ ).

## د نورو د پاره عمره ادا کول څه حکم لري ؟

د نورو د پاره عمره کول جايز دي ځکه عمره لکه حج داسې ده په هغه کې نيابت جايز دی، ځکه عمره او حج دواړه بدني او مالي عبادات دي.

د حنفي فقهاؤ رحمهم الله قول دا دی چې د بل لپاره عمره کولو جواز د

هغه په امر او اجازه پورې تعلق لري ځکه چې جواز يې د نيابت په طريقه جايز دی.

مګر د وفات شوي کس لپاره عمره کول د اجازت پرته جايز دي.

ذَهَبَ الْفُقَهَاءُ فِي الْجُمْلَةِ إِلَى أَنَّهُ يَجُوزُ أَدَاءُ الْعُمْرَةِ عَنِ الْغَيْرِ ؛ لأَنَّ الْعُمْرَةَ كَالْحَجِّ تَجُوزُ النِّيَابَةُ فِيهَا ؛ لأَنَّ كُلا مِنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ عِبَادَةٌ بَدَنِيَّةٌ مَالِيَّةٌ وَلَهُمْ فِي ذَلِكَ تَفْصِيلٌ:

ذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّهُ يَجُوزُ أَدَاءُ الْعُمْرَةِ عَنِ الْغَيْرِ بِأَمْرِهِ ؛ لأَنَّ جَوَازَهَا بِطَرِيقِ النِّيَابَةِ، وَالنِّيَابَةُ لا تَثْبُتُ إِلا بِالأَمْرِ.أَمَّا الْمَيِّتُ فَتَجُوزُ عَنْهُ بِغَيْرِ إِذْنِهِ (الموسوعة الفقهية ج ٣٠ ص ٣٢٩، بدائع الصنائع ٢/٢١٣).

## د عمرې د ادا کولو لنډه نقشه

↓

۱- د احرام تړل

↓

۲- د طواف کول

↓

۳- د صفا او مروه سعی

↓

۴- د سر د ویښتانو خریل او یا لنډول

# دویم څپرکی

## د احرام احکام او مسائل

### د حرمینو په لورې سفر او د احرام تړل

**اول- د سفر آداب:**

١- د کور د اهل څخه به د خدای په آمانی پر مهال دا دعا کوي: «أَسْتَوْدِعُ اللّٰهَ دِيْنَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ»(سنن الترمذي و مسند احمد).

ژباړه: ستا دین، ستا امانت او ستا د عمل خاتمه پر الله تعالی سپارم.

٢- د کور څخه د وتلو پر مهال به دا دعا ووايي: «بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللّٰهِ»( سنن ابوداود ٤ / ٣٢٥).

ژباړه: د الله په نوم په الله پاک توکل کوم او د الله تعالی پرته د رجوع ځای او قوت نشته.

٣- کله چې سپرلۍ (موټر او الوتکې) ته پورته کیږي درې ځله به تکبیر ووايي:[اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، اللّٰهُ أَكْبَرُ، او بیا دا دعا ووايي: { سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ * وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ} ] ( صحیح مسلم ).

ژباړه: الله لوی دی، الله لوی دی، الله لوی دی، پاک دی هغه ذات چې

مونږ ته یې دا (سورلۍ) تابع کړې ده، او مونږ د هغه مهاروونکي نه یو، او یقیناً چې مونږ خپل رب ته بیرته ورتلونکي یو.

۳- په سپرلۍ کې به د الله تعالی ذکر او یاد کوي له بې ځایه مناقشو، بې هوده خبرو، بې نبتي او نور ته ضرر رسولو ځان ساتي.

۴- د ټولو حاجتمندو سره به مرسته او مدد کوي.

۵- په الوتکه کې به تلبیه،استغفار او نور اذکار کوي، که غواړي خبرې وکړي باید د ضرورت څخه علاوه خبرې ونه کړي، او که د ده سره څوک خبرې کوي نو د عمرې د احکامو په باره کې به خبرې کوي.

۶- د الوتکې د سفر پر مهال د لمانځه وخت ته پام کول پکار دي، که الوتکه څه وروسته پر ځمکه کیني نو لمونځ و ځنډوئ او که د وخت د تلو ویره وي نو د قبلې لورې پیدا کړئ او په الوتکه کې و دریږئ لمونځ وکړئ که دریدل ناممکن وي په ناسته سره لمونځ وکړئ.

د سفر نیت چې د پنځلسو ورځو کم وي مسافرانه لمونځ به کوئ، که فرضاً کله په مقیم امام پسې اقتدا وکړئ، د امام په متابعت به لمونځ پوره کوئ.

۷- د جنجالي امورو څخه مو خپله ژبه وساتئ.

۸- توجه کوئ چې څه وخت میقات ته رسیږئ تر څو میقات ته د

رسیدو مخکې احرام وتړئ.

تاسې ته به د سفر د مسئول او مشر لخوا ویل کیږي چې احرامونه وتړئ، میقات ته له رسیدو مخکې هم د احرام تړل جایز دي.

**میقات څه ته وایي ؟**

میقات په لغت کې حد او تاکلې پولې ته وایي او په اصطلاح کې هغه ځای دی چې د هغه څخه د حج یا عمرې احرام تړل کیږي.

د میقات له مخې خلک په دری ډوله دي:

**۱- د آفاقیانو میقات:** آفاقي ټول هغه خلک دي چې د میقاتو څخه بهر اوسیږي آفاقي بلل کیږي چې پر هغوی باندې واجبه ده چې مکې ته د حج او عمرې په نیت ننوتلو پر مهال له خپل میقات څخه احرام وتړي.

**۲- میقاتي:** میقاتي هغه خلک دي چې د حرم څخه د باندې د میقاتونو په حدودو کې د ننه وي هغوی به د خپلو ځایونو څخه احرام تړي پر هغوی باندې میقات ته تلل نشته بلکې په کوم ځای کې چې اوسیږي د هغه ځای څخه به میقات تړي.

**۳- مکي، د حرم د اوسیدونکو میقات:** هغه خلک چې د حرم په داخل کې اوسیږي هغوی به د حج لپاره احرام له خپل استوګن ځای څخه تړي او د عمرې لپاره احرام به د کوم لنډ حل لکه: تنعیم، جعرانه...

ځخه تړي.

د احنافو په نزد د عمري کوونکو لپاره غوره او افضل «التنعیم» دی مګر ځینې علماء وايي د لنډ «الحل» ځخه احرام تړل افضل دی.د مکې د اوسېدونکو لپاره تنغیم لنډ دی.

**د آفاقیانو میقاتونه دا دی:**

١- یَلملَم: د اهل یمن او هغو خلکو میقات دی چې په دغه لاره راځي لکه:افغانستان،هند او پاکستان د دغه میقات اوسنی نوم «السعدیة» دی چې له مکې مکرمې ځخه ٩٠ کیلومتره لرې واقع دی.

٢- ذوالحُلفه: د هغو خلکو میقات دی چې د مدینې منورې لخوا ځخه راځي، ذوالحلفه د یوې کوچنی کلي نوم دی چې له مکې مکرمې ځخه ٤١٠ کیلو متره لرې واقع دی.

٣- الجُحفَه: د هغو خلکو میقات دی چې د مصر، شام او نورو طرفونو ځخه راځي، جحفه هم د یوه کلي نوم دی چې اوس مهال هلته یو جومات جوړ شوی دی چې جاجیان له هغه نه احرام تړي دغه میقات د مکې ځخه تقریباً ٢٠٠ کلیو متره لرې دی. -٤

قرن المنازل: د هغو خلکو میقات دی چې د نجد پر لار راځي دغه میقات ته نجد قرن هم وايي چې اوس مهال هلته یو جومات جوړ شوی دی چې

حاجیان احرام ورڅخه تړي د مکې څخه ۷۰ کیلو متره لرې دی.

۵- ذات عرق: د هغو خلکو میقات دی چې د عراق لخوا څخه راځي.

## دویم- د احرام تړلو سنته طریقه

### احرام څه ته وایي ؟

احرام په لغت کې حرمت ته داخلېدو او یا عهد او میثاق ته وایي، یعنې څه چې ورباندې حلال وو هغه ورباندې حرام او منع شول.

احرام په اصطلاح کې په زړه کې د حج یا عمرې نیت کولو د احرام جامې اغوستلو او تلبیه ویلو ته وایي.

د احرام تړلو مخکې به نوکان، د تخرګ ویښتان او د شرمګاه ویښتان لرې کړي ځکه د احرام په حالت کې یې لرې کول نشته، بیا که امکان وي غسل به وکړي، ځان به پاک کړي، پر بدن باندې به خوشبویي ووهي مګر د احرام په جامه به خوشبویي نه وهي،او که د غسل کولو امکان نه وي اودس به وکړي، بیا به خپلې ګنډلې جامې لرې او د احرام جامه (لنګ به واغوندي او د هغه د پاسه به چادر) واغوندي، بیا که مکروهه وخت نه وو دوه رکعته د احرام سنت لمونځ به ادا کړي، بیا به د عمرې نیت وکړي په زړه کې یا داسې:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أُرِيدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِي وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي»

ژباړه:ای الله ! زه د عمرې نیت کوم نو ما ته يې آسانه کړې او زما څخه يې قبوله کړې.

وروسته به درى ځله تلبيه ووايي:

«لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ،لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لا شَرِيكَ لَكَ»

ژباړه: ستا حکم منلو ته حاضر يم اى لويه څښتنه ! زه ستا حکم منلو ته تيار يم، هيڅ شريک نشته تا لره، يقيناً چې ټول تعريفونه او نعمتونه تا لره دي او پاچاهي تا لره ده، تا لره هيڅ شريک نشته .

تر نيت کولو او تلبيه ويلو وروسته احرام وتړل شو اوس چې په احرام کې کوم شيان منع دي هغه ته به پوره پام کوي.

تلبيه به د لمانځه نه علاوه هر وخت په لوړ ځاى د ختلو او د کوزيدلو سورلۍ ته د پورته کيدو او کښته کيدو په وخت کې وايي د احرام تړلو نه پس د عمرې يو عمل ادا شو.

**د ښځو احرام:** ښځې به هم ټول ذکر شوي آداب په نظر کې نيسي صرف په دريو څيزونو کې له نارينوو سره فرق لري:

١- ښځه به داسې ګنډل شوي جامې اغوندې څنګه چې د احرام نه مخکې يې اغوستې او خوشبويى به نه وهي.

۲- سړو لپاره په احرام کې سر پټول منع دي او د ښځې د پاره چې څنګه د احرام نه مخکې د سر او ویښتانو پټول ضرور دي همداسې په احرام کې یې هم پټول ضرور دي، مګر د مخ پټول او دستانو (دستکش) اچول نشته.

۳- نارینه به تلبیه په اوچت آواز وایي مګر ښځې به یې په ورو سره وایي.

### د احرام د صحت شرطونه

۱- اسلام

۲- د احرام نیت

۳- تلبیه ویل

### د احرام واجبات

۱- د میقات څخه احرام تړل.

۲- د احرام له ممنوعاتو څخه ځان ساتل.

### د احرام سنتونه

۱- د خپل ملک له میقات څخه احرام تړل.

۲- د احرام لپاره غسل او یا اودس کول لکن غسل کول افضل دي.

۳- د احرام دوې جامې (چادر او لنګ ) اغوستل.

۴- د احرام په نیت دوه رکعته نفل لمونځ کول.

۵- تلبيه درى ځله تكرارول.

۶- د نارينه د پاره په لوړ آواز تلبيه ويل او د ښځو د پاره په كراره ويل.

۷- د احرام تړلو مخكې پر بدن باندې خوشبوېي وهل مګر د احرام په جامه خوشبويي وهل منع دي.

## د احرام مستحبات

۱- د احرام تړلو مخكې د نوكانو پرې كول، د بغل د ويښتانو او د نامه لاندې ويښتانو خريل.

۲- د احرام د لباس سپين رنګ، اويا نوي پرېمنځل شوي جامې.

۳- د لمانځه څخه وروسته په ناسته نيت كول.

۴- د ميقات څخه مخكې احرام تړل.

## د احرام ممنوعات

### ۱- جماع:

له احرام تړلو وروسته د ميړه او ښځې كوروالـه (جماع ) كول او د جماع پارونكي چارې منع دي لقوله سبحانه وتعالى:{ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلا رَفَثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ } [البقرة: ۱۹۷].

ژباړه: نو هر چا چې فرض كړ (پخپل ځان) په دې (مياشتو) كې حج نو نه دې كوي جماع او نه ګناهونو او نه جګړې په ورځو د حج كې.

د رفث څخه د جماع پارونکي خبرې مراد دي.

کچیرې جماع د احرام په حالت او د طواف له څلورو ګردشونو مخکې وشی عمره یې فاسده ده، او که ددې څخه وروسته وي عمره نه فاسدیږي.

ذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ إِلَى أَنَّهُ لَوْ جَامَعَ قَبْلَ أَنْ يُؤَدِّيَ رُكْنَ الْعُمْرَةِ، وَهُوَ الطَّوَافُ أَرْبَعَةَ أَشْوَاطٍ. تَفْسُدُ عُمْرَتُهُ، أَمَّا لَوْ وَقَعَ الْمُفْسِدُ بَعْدَ ذَلِكَ لا تَفْسُدُ الْعُمْرَةُ ؛ لأَنَّهُ بِأَدَاءِ الرُّكْنِ أَمِنَ الْفَسَادَ (الموسوعة الفقهية ج ٢ ص ١٩٢ ).

**د عمرې د فساد په صورت څه شی لازمیږي ؟**

- ✓ د عمرې پاتې مناسک به ادا کوي،لقوله سبحانه وتعالى: ﴿**وَأَتِمُّوا الحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ**﴾ [البقرة: 196].
- ✓ د عمرې قضايي به کرځوي.
- ✓ کفاره به ادا کوي د شاة (پسه ) ذبحه کول.
- ✓ ګناه کچیرې قصداً وي.

مګر که جماع د طواف د څلورو ګردشونو وروسته وي عمره نه فاسدیږي په دې صورت کفاره یوازې د شاة (پسه ) ذبحه کول دي.

(الموسوعة الفقهية ج ٢/ ص ١٩٢، فتح القدير ج ٢ ص ٢٤١ ).

**۲- جنګ جدال:**

د خپلو ملګرو او يا له بل چا سره جنګ کول، غيبت کول، دروغ ويل، بهتان کول او ګنځل او فحش ويل منع دي، لقوله سبحانه وتعالى: [فَلا رَفَثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ].

ژباړه: نه دي کوي په حج کې جماع او نه د جماع خبرې او نه ګناهونه او نه جګړې.

**۳- صيد (ښکار) کول:**

د وچې د ځاروي ښکار کول او يا په ښکار کولو کې کومک کول او يا د هغه هګۍ ماتول، وزرونه کښل، هګۍ او غوښې پخول، خوړل او خرڅول او د ښکار شوي ځاروي شيدې لوشل منع دي.

**۴- خوشبويي او د ويښتانو او نوکانو پرې کول:**

د احرام په حالت کې په بدن او جامه خوشبويي وهل، د نوکانو، او ويښتانو خريل او لرې کول منع دي.

لقوله سبحانه وتعالى: {ولا تحلقوا رؤوسكم حتى يبلغ الهدي محله} [البقرة:2/196]

لقوله صلى الله عليه وسلم: «ولايلبس من الثياب ما مسه ورس أو زعفران»

- ✓ خوشبويي وهلو کې «الصابون المعطر» (عطرو واله صابون استعمال هم منع دی.
- ✓ د قصد پرته د خوشبويي حس کول باک نلری.
- ✓ د رنجو استعمال باک نلري ځکه هغه خوشبويي نه لري.

ولابأس عند الحنفية أن يكتحل؛ لأن الكحل ليس له رائحة طيبة (فقه اسلامي وادلته – محظورات الأحرام ).

- ✓ که پخپله کوم ويښته ولويږي او يا کوم نوک مات شي باک نلري

**فديه:**

د پورته ممنوعات فديه ادا کول فرق لري.

- ✓ کچېرې څوک د کوم عذر پرته د احرام په حالت کې ټول سر يا د هغه څلورمه حصه وخريي دم ورباندې واجبيږي او که د کوم عذر له مخې وي نو په دغو دريو شيانو کې اختيار لري: د پسه ذبحه کول، يا شپيته مسکينانو ته نيم صاع غنم يا د هغه قيمت ورکول او يا درى ورځې روژه نيول.

لقوله سبحانه وتعالى:[فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضاً أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ ] (البقرة:۱۹۶

- ✓ او که د څلورمې برخې څخه کم وي صدقه (نيم صاع غنم يا د

هغه قیمت ) ورباندې لازمیږي.

- ✓ همدارنګه د بریتونو په خریلو باندې صدقه ده، د لاسونو او پښو د نوکانو په پرې کولو سره دم واجبیږي، د یو نوک په پرې کولو او یا یو وېښته سره نیم صاع فدیه ورکول لازمیږي.

**۵- د سر او مخ پټول:**

د احرام په حالت کې د سر په پټولو کې غوړونه او مخ هم شامل دي په حدیث شریف راغلي:« ولا تمخروا رأسه فانه یبعث یوم القیامة ملبیاً »

مګر د چطرۍ او ساسبان کارول باک نلري همدارنګه د احرام په حالت کې د خوب پر مهال د مخ پټول باک نلري.

**فدیه:** کچېرې کامله ورځ یا کامله شپه سر او مخ پټ کړ شي فدیه د پسه یا د اوښ او غوایي اومه برخه ذبحه کول دي او که د ورځې څخه کمه موده پټ شي کفاره یې صدقه (نیم صاع غنم ) او که د یو ساعت څخه کم وي کفاره یې یو موټی غنم دي.

وَإِنْ لَبِسَ ثَوْبًا مَخِيطًا أَوْ غَطَّى رَأْسَهُ يَوْمًا كَامِلا فَعَلَيْهِ دَمٌ , وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ ذَلِكَ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ ) (هداية ج ٢/٢٨٢).

وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ يَوْمٍ أَوْ أَقَلَّ مِنْ لَيْلَةٍ فَعَلَيْهِ صَدَقَةٌ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ. وَفِي أَقَلَّ مِنْ سَاعَةٍ عُرْفِيَّةٍ قَبْضَةٌ مِنْ بُرٍّ (الموسوعة الفقهية ج ٢ ص ١٨٣).

**۶- ګنډلې جامې اغوستل:**

ګنډلې جامې اغوستل کوم چې بدن باندې وصل وي د احرام په حالت کې منع دي، په حديث شريف کې راغلي: لايلبس السراويل، و لا القمص،ولا البرانس و لا عمامة و لا ثوباً مسه الزعفران و لا الورس ).

يعنې: نه به اغوندې پطلون او پرتوګ، او نه قميص او نه زيرپېراني او نه پګړۍ او نه داسې جامه چې په زعفرانو وي او نه ورس.

- ✓ د احرام د جامو څخه علاوه هغه جامې چې په بدن باندې وصل وي يعنې د اندام په اندازه وي لکه: قميص، پرتوګ، نيکر، جرابې، دستکش او نور که څه هم ګنډل شوي نه وي منع دي ځکه هر هغه جامه او لباس چې په بدن وصل وي يا د اندام په اندازه وي «المخيط» (ګنډل شوې) بلل کيږي برابره خبره ده که ګنډل شوې وي او يا ګنډل شوي نه وي (فقه الحج – الاکاديمية الاسلامية).
- ✓ د احرام په حالت کې بوټونه او موزې اغوستل منع دي بلکې چپلکې به اغوندې، مګر که څوک څپلکې ونه مومي د بوټونو او موزو اغوستل ورته جايز دي، په دليل د دغه حديث شريف:«و من لم جد نعلين فليبس الخفين ».

- ✓ په احرام کې د کمربند اچول جایز دي.
- ✓ که څوک د میتازو د وتلو عذر ولری هغه لپاره د پمپر یا ټوټې اچول باک نلري.

**فدیه:** که د یوې کاملې ورځې او شپې په موده وي فدیه یې د پسه ذبحه کول او که د ورځې او یا شپې څخه کمه موده وي صدقه واجبیږي.

## د احرام مکروهات

۱- له بدن څخه خیرې لرې کول.

۲- د سر یا ږیرې ږمونځول.

۳- په خوشبویي لاس وهل یا یې بویول.

۴- د سر او مخ پرته بې ضرورته پر بدن پټۍ تړل.

۵- د لنګ څنډه را اړول او کمربند پرې تړل.

۶- په جامه باندې پزه او زنې پټول.

۷- پر بالښت پړمخې پرېوتل.

۸- د خپلې میرمنې شرمګاه ته په شهوت سره کتل.

۹- چپنه، کرتۍ و غیره په اوږه اچول.

## څو ضروري او مهم مسائل

۱- د احرام نیت په زړه کې کول ضرور دي، د نیت او تلبیه یو ځای کول شرط دی.

۲- تلبیه په ژبه تکرارول شرط دی په زړه کې ویل یې کفایت نه کوي، که ګونګی وي په ژبه تلفظ نشي کولای هغه به خپله ژبه ور باندې ښوروي.

۳- تلبیه ویل د عربي څخه پرته بله ژبه ویل جایز دي.

۴- په طواف او سعی کې تلبیه مه وایاست.

۵- کچېرې څوک له میقات څخه تیر شي او احرام ونه تړي نو هغه به میقات ته را وګرځي او له میقات څخه به احرام وتړي مګر که دا امکان نه وي په هغه باندې دم واجبیږي.

۷- جده میقات نه بلل کیږي، او هیڅ چا ته جایز نه ده چې د خپل میقات څخه تیر شي.

(مجمع الفقه الاسلامي، الدرر السنیة فقه عمره ).

۸- که د چا سره په الوتکه کې د احرام جامه نه وي او یا یې د احرام جامه ورکه شي نو جدې ته د رسیدلو انتظار به نه کوي، خپل سر به لوڅ کړي، کله چې جدې ته ورسیږي د احرام چادر او لنګ به واخلي احرام به وتړي او د جامې اغوستلو کفاره (پسه، یا درې ورځې روژه او

یا شپیتو مسکینانو ته نیم صاع غنمو) فدیه به ادا کړي ( مجموع الفقه الاسلامي رابطه عالم الاسلامي ).

**یادونه:** کله چې عمره کوونکی مکې مکرمې ته ورسیږي په خپل استوګن ځای کې به غسل وکړي ځکه چې مکې ته له ننوتلو سره او د طواف څخه مخکې غسل کول مستحب دی.

# دريم څپرکی

## د عمرې دويم عمل طواف

عمره کوونکی به د باب السلام (باب بنی شيبه ) له لارې مسجد الحرام ته داخل شي ځکه چې جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم له همدې دروازې مسجدالحرام ته داخليدو او که له بلې لارې داخل شي باک نلري، د داخلېدو په وخت کې به لومړی ښی پښه مخکې کړي او دا دعا به ولولئ::«اللَّهُمَّ! افْتَحْ لِي أبْوابَ رَحْمَتِكَ » (رواه مسلم).

ژباړه: ای پروردګاره ! ما ته ستا د رحمت دروازې پرانيزه.

او د وتلو پر مهال به دا دعا کوي:« اللَّهُمَّ! إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ»

ژباړه: ای پروردګاره ! ما ته ستا د فضل دروازې پرانيزه.

کله چې مسجدالحرام ته داخل شئ او په بيت الله شريف مو سترګې ولګيږي درې ځله به ووايئ:«الله اکبر لا الا الله »، په اخلاص او عاجزی سره به دعا وکړئ ځکه چې د کعبې شريفې د ليدلو پر مهال دعا قبليږي.

### د طواف کولو فضيلت

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:«مَنْ طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ، لا يَضَعُ قَدَمًا وَلا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلا حَطَّ اللَّهُ عَنْهُ خَطِيئَةً وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً» ( الترمذی -٩٥٩ ).

ژباړه: څوک چې له کعبې څخه اوه دورې طواف وکړي، دا طواف دومره اجر لري لکه یو غلام ( يې چې د الله په لاره کې ) آزاد کړی وي، د قدم له اخیستلو او پورته کولو وړاندې به الله تعالی دی له ګناهونو څخه پاک کړي او د ده د پاره به نیکي و لیکي.

مسجد الحرام او کعبه شریفه د ځمکې پر مخ باندې تر ټولو پاک او سپیڅلی ځای او د یو الله تعالی د عبادت کولو شعار او نښه ده.

لومړی تأسیس يې د آدم علیه السلام څخه پخوا ملائکو کړی دی او د نوح علیه السلام د طوفان وروسته ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام د الهي وحی په لارښودنه بنا کړې ده.

په کوم مطاف باندې چې نن ورځ طواف کیږي پر دغه ځمکه باندې پیغمبرانو علیهم السلام، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم، صحابه کرامو رضی الله عنهم او د خیرالقرون زماني ټولو صالحانو طواف کړی دی، د هغه پوره تعظیم په کار دی او په پوره توجه او خشوع سره طواف ادا کول پکار دي.

## د طواف کولو مسنونه طریقه

د طواف نه مخکې دې عمره کوونکی د احرام څادر له ښي تخرګ نه وباسي او په ګینه اوږه به يې واچوي دې ته په شریعت کې اضطباع

وایې ددي نه پس به بیت الله شریف ته مخامخ داسې چې حجر الاسود مو ښي اړخ ته پاتې شي په زړه کې به د طواف نیت وکړي:

«اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ طَوَافَ بَیْتِکَ الْمُحَرَّمِ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّیْ»

ژباړه:ای الله ! زه ستا د محترم کور طواف کول غواړم نو زما لپاره یې ادا کول آسانه کړې او زما د طرف نه یې قبول کړې.

ددی نه وروسته به حجر الاسود ته مخامخ شي استلام به وکړي استلام، په لغت کې لاس وروړل اوښکلول ته وایې او په اصطلاح کې له استلام نه مقصد د حجر اسود ښکلول او رکن یماني ته لاس وروړل دي.

داسې چې په حجرالأسود به دواړه لاسونه کیږدي او هغه به کراره مچ کړي که امکان نه وو هغه به په لاس مسح کړي او که دا هم امکان نه وو د حجرالأسود طرف ته به مخامخ شي دواړه لاسونو به ترغوږونو پورته کړي یا د همسا یا یوازې ښي لاس سره به اشاره وکړي «بسم الله، الله اکبر» به ووایي، بیا به د ښي لور خخه چې کعبه شریفه یې کیڼ لور ته وي د حطیم څخه بهر به طواف پیل کړي.

په دریو لومړیو گردشونو کې به رمل یعني د پهلوانی تک کوي، اوږې به ښوروي او په نورو څلورو گردشونو کې به په عادي حال گرځي.

کله چې رکن یماني ته ورسیږي هغه به په لاس سره مسحه کړي او د رکن یماني او حجر اسود تر مینځ به دا دعا وایي:« رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ » (صحیح ابن حبان).

ژباړه ای زمونږ ربه ! مونږ لره په دنیا کښی هم نیکي راکړې او په آخرت کښی هم او مونږ د اور له عذابه وساتې.

د طواف د هر دور شروع له حجرالاسود نه کیږي چې کله بیرته حجرالاسود ته راورسیږي نو یو شوط دور یا ګردش به پوره شي.

طواف به د بیت الله شریف او حطیم (حطیم هغه ځای دی چه په بیت الله پورې اړه لري) په څاپیر له ښی خوا نه اوه ګردشه پوره کړي په داسې ډول چه که مو وس رسیدلو نو د هر ګردش او طواف په پای کې به حجرالاسود ته په رسیدو سره هغه ښکل او مسحه کړي او که زیاته ګڼه ګونه وه وسه مو نه وه او د حجراسود په ښکلولو سره خلکو ته د تکلیف رسیدلو ویره وه نو مخامخ به ورته و دریږي او د هغې په لور به د امسا یا لاس په ورغزولو سره د مسح کولو په ځیر اشاره کوي،«بسم الله، الله اکبر» به وایي.

طواف به د زړه په حضور، پوره توجه او عاجزی سره ادا کوي، د

طواف پر مهال، تلاوت، ذکر او دعا کول مستحب دي.




## د طواف شرطونه

۱- د طواف لپاره نیت کول.

۲- د قادر او توانا لپاره پیاده طواف کول.

۳- طواف د کعبې شریفې خاپیره د مطاف په ساحه کې کول.

۴- هر قسم طواف پخپل وخت کې ادا کول.

۵- درې او زیات څلور ګردشه طواف کول فرض دي او اووه ګردشه

پوره کول واجب دي.

## په طواف کې واجبات

١- طهارت ( د جنابت او بې اودسی او نجاست) څخه پاکوالی.

٢- سترعورت پټول.

٣- د ښی طرف نه د طواف شروع کول او کعبه کین لوری ته ساتل.

٤- که څه عذر نه وي نو پیاده طواف کول.

٥- په ولاړه طواف کول.

٦- د حطیم د بهر نه طواف کول.

٧- اوه دورې طواف کول.

که له واجباتو څه پاتې شي دویم ځل به یې ادا کوي که دویم ځل یې ونه کړي نو یو قرباني وربانديې لازمیږي.

د طواف سنت

١- استلام کول.

٢- د نارینه لپاره اضطباع (ښي لاس ) لوڅول.

٣- په لومړي دریو شوطونو کې رمل کول.او په پاتې څلورو شوطونو کې رمل نه کول.

٤- د سعی او طواف تر مینځ استلام کول دا د هغه چا لپاره دی چې تر

طواف وروسته سعی کوي لکه د عمرې طواف.

۵- حجر الاسود ته مخامخ دریدل او د لاسونو پورته کولو په وخت کې تکبیر ویل.

۶- د حجرالاسود څخه طواف شروع کول چې ځنې علماء یې واجب ګڼي.

۸- د طواف ټول شوطونه پرلپسې ادا کول.

**کوم شیزونه چې په طواف کې منع او حرام دي**

۱- د جنابت او میاشتني عادت په حالت کې طواف کول منع دي.

۲- بې اودسه طواف کول.

۳- بې عذره په سپرلۍ طواف کول.

۴- بې عذره په ځنګلو یا د شا پر خوا طواف کول.

۵- په طواف کې په حطیم کې تیرېدل.

۶- بشپړ یا لږ شوط ناقص پرېښودل.

۷- له حجرالاسود پرته له بل ځای څخه طواف شروع کول.

۸- په طواف کې بیت الله ته مخ ګرځول خو د طواف په پیل کې حجر الاسود ته مخ کول سنت دي.

۹- د طواف له واجباتو څخه یو واجب پرېښودل.

کفاره: که د بې اودسی په حالت کې طواف وشي کفاره یې کډ یا څیرلی دي او که د جنابت په حالت کې طواف وشي نو کفاره یې د غوا یا اوښ قرباني ده ځکه چې دا لوی جرم دی، ددې نه پرته نور که پاتي شي دوباره به یې اداکوي او که ادا نه شي یو قرباني (پسه ذبحه) به ادا کوي.

## په طواف کې مکروهات

۱- د طواف په حالت کې که په بدن یا جامه نجاست خفیفه لګیدلی وي نو په دې صورت کې طواف مکروه دی.

۲- د تلاوت، ذکر او دعا ویلو پر ځای فضولې او عبثې خبرې.

۳- د څه شي خوړل.

۴- اخستل او خرخول کول.

۵- د یو یا دوه دوره ګردش نه پس هسې بې ضرورته کیناستل.

۶- د طواف پوره کولو نه پس په مقام ابراهیم باندې د لمانځه ادا کولو نه مخکې بیا بل طواف شروع کول.

۷- اضطباع نه کول.

۸- د حجراسود استلام پریښودل.

۹- د ذکر او دعا ډیر په چغو چغو لوستل که نور څوک داسې کار

کوي هغه ته بد رد ویل نه دي په کار بلکی خپله ورڅخه پرهيز کول.

## په مقام ابراهيم کې لمونځ

د طواف کولو وروسته به دواړه اوږې پټې کړي، کچېرې ګڼه ګونه نه وي ملتزم ته به لاړ شي، د کعبې د دوازې او حجره اسود تر مينځ حصې ته ملتزم وايي هلته به دعا وکړئ، دا د دعا د قبليدو ځای دی.

وروسته به د مقام ابراهيم تر شا دوه رکعته لمونځ وکړي، په لمانځه کې به خپلې اوږې پټوي، په لومړي رکعت کې به د [الکافرون] سورت او په دويم رکعت کې [قل هو الله] سورت ويل مستحب دي، که بل سورت ووايي باک نلري، که په مقام ابراهيم کې ګڼه ګونه وي په حجر اسماعيل کې به يې ادا کړي او که دلته هم امکان نه وي کعبې شريفې ته نږدې هر ځای چې کولای شي لمونځ به ادا کړي.

د لمانځه وروسته به د خپلې خوښې دعا وکړي او بيا به د زم زم اوبو ته لاړ شي چې اوس مهال د زمزم د اوبو هر ځای نلونه شته، اوبه به وڅښې او دا دعا به وکړي:«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَشِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ» (المستدرک الحاکم).

ژباړه ای الله زه ستا نه علم نافع،پراخه رزق او د ټولو امراضو شفاء غواړم.

**ضروري مسائل**

۱- د هجوم او ازدحام په وخت کې به يوازې په لاس سره استلام کوي ځکه د حجر اسود مسحه او مچې کول سنت خو خلکو ته ضرر رسول او د خلکو ټله کول حرام دي.

۲- په مکروه وخت کې د طواف دوه رکعته لمونځ کول مکروه دي مثلاً کچېرې د مازديګر وروسته طواف وشي نو د طواف لمونځ به د ماښام د لمانځه څخه وروسته ادا کول پکار دي.

۳- کچېرې سړی د طواف د شوطونو په شمير کې شکمن شي چې شپږ دورې مې وکړل او که اووه نو په اقل (لږ) شمير به عمل کوي.

۴- که چا قصداً په طواف کې اتم شوط (دور) وکړ نو هغه به شپږ شوطونه نور کوي ځکه په هغه باندې مکمل طواف واجب شو نو په دې توګه به هغه دوه طوافه ادا کړي وي.

۵- کچېرې د طواف کولو پر مهال جماعت ودريږي،نو طواف به پريږدي د جماعت لپاره به په صف کې ودريږي کله چې جماعت ختم شو، د همغه ځای څخه به د طواف پاتې دورې پوره کړي.

**پوښتنه:** که څوک د طواف په حالت کې بې اودسه شي ؟

**ځواب:** د طواف د پاره طهارت شرط دی بې اودسه طواف نه صحي

کیږي، که چیرې د طواف په حالت کې سرې بې اودسه شي هغه به اودس وکړي او د طواف پاتې شوطونه (دورې ) به پوره کړي.

جاء فی الموسوعة الفقهية:

الطهارة شرط لصحة الطواف عند جمهور العلماء، واختلفوا فيما إذا أحدث في الطواف ثم توضأ هل يكمل الأشواط أم يستأنف الطواف على قولين، فذهب الحنفية والشافعية إلى أنه يبني على طوافه، وذهب المالكية والحنابلة إلى أنه يستأنف الطواف من أوله. وينظر: الموسوعة الفقهية (٢٩/ ١٣١).

او د معذور کس ( چې باد، بول او میتیازې ) یې جاري وي د طواف کولو حکم د لمانځه د حکم په شان دی چې د هر وخت د پاره به جلا اودس کوي، کله چې د یوه لمانځه وخت ختم شي نو د هغه طهارت هم ختم دی.

وسئلت اللجنة الدائمة عن رجل به سلس بالبول كيف يتطهر للصلاة والطواف ؟

فأجابت:إذا كان الواقع كما ذكرتم فلا حرج عليك في الصلاة والطواف ولو خرج منك بول مادام خروجه مستمراً لأنك في حكم أصحاب السلس وعليك أن تستنجي إذا دخل كل وقت ثم تتوضأ وضوء الصلاة

ولا يضرك بعد ذلك ما خرج منك إلى الوقت الآخر.فتاوى اللجنة الدائمة ( ٥ / ٤٠٨ ) .و الله سبحانه وتعالى اعلم

**که ښځه په حج کې حائضه شي څه به کوي ؟**

ځواب: په دې باندې د ټولو فقهاء اتفاق دی چې حائضه ښځه به طواف نه ادا کوي په دليل د دغه حديث شريف: چې کله عائشه رضی الله عنها د حج په موقع کې حائضه شوه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته وفرمايل:«فاقضي ما يقضي الحاج، غير أن لا تطوفي بالبيت حتى تغتسلي» (رواه البخاري -٥٥٥٩).

ژباړه: پس د حج نور مناسک ادا کړه کوم چې نور حاجيان يې ادا کوي، بغير له طواف څخه طواف به نه ادا کوې مګر کله چې پاکه شې او غسل وکړې.

نو د جمهورو فقهاء په نزد کومه ښځه چې د طواف نه وروسته حائضه شي نو د عمرې پاتې اعمال به ادا کړي مګر که د طواف نه مخکې حائضه شي هغه به تر هغه پورې په مکه کې پاتې کيږي څو پاکه شي او غسل به وکړي او وروسته به طواف کوي.

مګر که په مکه کې پاتې کيدل مشکل وي معاصرو فقهاء کرامو يې حل داسې ښودلی دی:

حائضه ښځه به غسل كوي او توته يا پمپر به اچوي په همدې حالت كې به طواف ادا كړي سعې به وكړي دا قول د احنافو او حنابله دى.

څرنګه چې د احنافو په نزد د طواف د پاره طهارت واجب دى شرط نه دى نو په دغه ښځه به دم لازم شي.

**المناسک الحج بالمملكة العربية السعودية ليكي:**

القول الثالث: وهو الراجح والله أعلم، أنها تغتسل وتتحفظ حفاظاً محكماً، وتتحرز مما يلوث المسجد، وتطوف على حالها. وتسعى بين الصفا والمروة إن لم تكن قد سعت. وهذا قول الأحناف والحنابلة.

ولكن هل يلزمها شيء بذلك؟

عند الأحناف يلزمها بدنة، إذ إن الطهارة للطواف ليست شرطاً بل هي واجبة، فمن طاف محدثاً أجزأه، وعليه بدنة للجنابة، وشاة للحدث الأصغر.

و الله سبحانه وتعالى اعلم

# څلورم څپرکی

## د صفا او مروه ترمینځ سعي

**تعریف:**

سعی په لغت کې کوښښ کول،منډې وهلو او په اهتمام سره تللو ته وایي او په اصطلاح کې د سعی نه مراد د عمري او حج هغه واجب عمل دی چې په هغی کې حاجیان د صفا او مروه په نومونو دوه غونډیو ترمنځ سعی کوي.

**د سعي د مشروعیت حکمت**

د سعي د مشروعیت اصل دا دی چې کله ابراهیم علیه السلام د الله تعالی په حکم بی بی هاجره او د هغې تي خوری زوی اسماعیل علیه السلام د مکې په وچه بدیا کې پریښودل،او بی بی هاجرې ابراهیم علیه السلام ته عرض وکړ چې مونږ چا ته پرېږدې؟ ابراهیم علیه السلام هغه ته ځواب ورنه کړ او څو ځله یې دا پوښتنه تکرار کړه، بی بی هاجرې رضی الله عنها ابراهیم علیه السلام ته وویل: مونږ دلته د الله تعالی په حکم پریږدې، ابراهیم علیه السلام وویل: هو، بی بی هاجرې رضی الله عنها وویل: نو چې تاسې ده الله تعالی به مونږ ضایع نه کړي.

کله چې ابراهیم علیه السلام په وچه بدیا کې خپل اهل پریښود نو د الله

تعالى په دربار کې يې په عاجزۍ سره داسې دعا وکړه:

رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصَّلاَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ (سوره ابراهيم:٣٧).

ژباړه: (اى زمونږ ربه ! ما خپل اهل عيال په يوه بې کښته او بې اوبو دښته کې ستا د محترم کور تر څنګ ميشت کړل، اى زمونږ ربه! د دې لپاره چې دوى لمونځ قايم کړي، نو ته د ځينو خلقو زړونه راوګرځوه، چې په مينې سره د دوى خوا ته راځغلي او ته دوى ته له ميوو څنې روزي ورکړه، د دې لپاره چې دوى شکر وباسي).

د بى بى هاجرې رضى الله عنها سره څه خرما او لږ اندازه اوبه وي کله چې هغه ختمې شوي نو دا او زوى يې له تندې سره مخ شول، د اوبو په لټه کې د صفا غوندۍ ته وخته خو څه يې پيدا نه کړل او بيا په بېړه په دې وېره کې چې زوى يې ضايع نشي د مروا غوندۍ ته وخته هلته يې هم څه پيدا نه کړل همداسې په بېړه اوه ګشته د صفا او مروا په مينځ کې و ګرځيده اوبه او څه يې ونه موندل، هماغه وو چې د الله تعالى په حکم سره جبرئيل امين راغى او پخپل وزر سره يې ځمکه ووهله اوبه ورڅخه را ووتلې، کله چې بې بې هاجره د خپل زوى طرف ته راغله له ځمکې

ښخه اوبه راوتلې وې.

سبحان الله وبحمده سبحان العظيم

نو د سعي د مشروعيت حکمت دا دی:

۱- د الله تعالی د ذکر او ياد اقامه او د شعائر الله قيام.

۲- د ابراهيم، د هغه د ميرمنې او زوی اکرام او عزت چې دوی ټولو د الله حکم منلی دی، او بنده ګانو ته دا پيغام رسول چې هر څوک د خپل رب (جل جلاله ) حکم ومني د هغوی به همداسې عزت او اکرام تر سره کيږي.

۳- بنده ګانو ته دا پيغام رسول چې د ستاسې حاجت پوره کوونکی او روزي درکوونکی يوازې رب العالمين دی، لکه څنګه يې چې بی بی هاجرې رضی الله عنها او د هغې زوی ته په وچه بديا کې روزي ورکړه همداسې تاسې ته هم روزي درکوي.

## د سعې د ادا کولو طريقه

د سعی ادا کولو مخکې د حجر اسود استلام کول مستحب دی مګر که پاتې شي باک نلري، وروسته به د باب صفا له لارې د صفا په لورې روان شي او په زړه کې به د سعی نيت وکړي.

صفا ته د نږدې کيدو پر مهال به ووايي: [إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ

اللّهِ].

ژباړه: په رښتیا سره چې صفا او مروا د الله پاک (د عبادت) له نښو څخه دي.


د صفا غونډۍ ته به دومره پورته شي چې بیت الله و لیدل شي، بیا به مخامخ بیت الله شریف ته ودرېږي درې ځله به،«الله اکبر، الله أكبر، الله أكبر» ووايي او دا دعا به ووايي: «لَا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ ولَهُ الحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ، أَنْجَزَ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ» (رواه مسلم – ١٢١٨ ).

ژباړه: نشته لائق د عبادت مګر الله دی، هغه یو دی، شریک نلري، ده لره ټولواکي ده، او هغه لره پوره ستاینه ده، او هغه پر هر څه قادر دی، نشته لائق د عبادت مګر الله دی، هغه یو دی، خپله وعده یې پوره کړه، او د خپل بنده مدد یې وکړ، په تنهایی سره یې (د کفارو) ډلو ته ماتې ورکړه.

پورته دعا به درې ځله تکرار کړي د هغه وروسته به د خپلې خوښې دعا وکړي او بیا به د مروا په لوري روان شي کله چې د صفا او مروا تر مینځ دوو شنو چراغونو ته ورسید نو د دغو چراغونو تر مینځ به نارینه ځغلې او تیز ځي،او بیا به مروا ته کوز شي، قبلې ته به مخ کړي

همدا پورته دعا بهووايي( د صفا په شان دعا او اذكار به ولولي).

له صفا څخه تر مروه پورې يو ګشت پوره کيږي په هم دې شان به اوه ګشته پوره کړي.



**د سعی واجبات**

۱- د صفا څخه سعی شروع کول او په مروه یې پای ته رسول.

۲- سعی په پیاده تلو سره.

۳- د صفا او مروا ترمنځ څلور ځله یا تر هغه زیاتې دورې کول واجب او اووه ځله پوره کول (سنت ) دي.

۴- سعی د طواف نه پس ادا کول.

۵- سعی په اوداسه سره ادا کول.

د واجبو په ترک سره یو قرباني (پسه ذبحه) کول لازمیږي.

**مکروهات**

۱- د اوه ځله نه کم مکروه دي.

۲- د میلین احضرین په منځ کې تیز نه تلل.

۳ - په صفا او مروا باندې نه ختل.

۵- د طواف وروسته بغیر له عذر څخه د سعی ځنډول.

۶- د سعی د ګشتونو په مینځ کې ډیره فاصله کول.

۷- په سعی کې خرڅول او اخیستل او بې ضرورته خبرې کول چې د زړه حضور مشغول کړي.

**ضروري مسائل**

۱- کچېرې د سعي پر مهال جماعت ودرېږي نو سعى به پرېږدي د جماعت لپاره به په صف کې ودرېږي د لمانځه د ادا وروسته به پاتې شوطونه (ګردشونه) پوره کړي.

۲- کچېرې چا د مروا له لورې سعى پیل کړه نو دا شوط یې لغوه دی، نه حسابیږي، د صفا له لورې به سعى پیل کړي.

۳- د سعى کولو پر مهال ذکر او دعا کول مستحب دي، خرڅول او اخیستل، د بل سره درېدل او خبرې کول نه ښایي. کچرې لږ وي ضرر نه لري او که نه داسې کول مکروه دي او که ډېر وي، سعى به له سره ادا کړي.

لا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَبِيعَ أَوْ يَشْتَرِيَ أَوْ يَقِفَ مَعَ أَحَدٍ وَيُحَدِّثَهُ، فَإِنْ فَعَلَ وَكَانَ خَفِيفًا لَمْ يَضُرَّ وَإِنْ كَانَ مَكْرُوهًا، فَإِنْ كَثُرَ ابْتَدَأَ السَّعْيَ مِنْ جَدِيدٍ.

(الموسوعة الفقهية ج ۲۵ ص ۲۲).

## پنځم څپرکی

## حلق او تقصیر ( د سر خریل او لنډول)

د سعی څخه وروسته به عمره کوونکی د مروا له دروازې بهر ووځي خپل سر به وخریي او یا به د سر ویښتان لنډ کړي (حلق او تقصیر ) به وکړي، ښځې به د سر ویښتان جمع کړي یوازې د ګوتې د بند په اندازه به یې لنډ کړي د ښځو د پاره د سر خریل نشته.

په دې سره عمره پای ته ورسیده، نور په هغه باندې هغه څه حلال شول کوم چې د احرام په حالتورباندې حرام وو.

په عمره کې احرام شرط دی، طواف کول د عمرې رکن دی، سعی او د سر خریل یا لنډول واجب دي او کله چې د طواف د لومړي شوط لپاره استلام وکړي نو د تلبه درول سنت دي (فقه الاسلامي وادلته، البدائع: ۲/۲۲۶).

مګر اکثره حجاجو ته دا معلومه نه وي چې د ویښتانو څومره اندازه کمه شي.

مثلاً یو حاجي څلور یا پنځه ځله عمره ادا کوي او په هر ځل باندې د ماشین په ذریعه باندې لږ لږ خپل ویښتان کموي حال دا چې ویښتان به یې تر یوې ګوتې یا د ګوتې د مفصل یا بند څخه کم وي چې په دې

سره په حاجي باندې دم لازميږي.

د احنافو په نزد واجب ده چې د يوې ګوتې يا د ګوتې د بند په اندازه ويښتان کم شي کچېرې ويښتان دومره کوچني وي چې د ګوتې د بند په اندازه نه کميږي نو خريل يې واجب دي او کچېرې سر مخکې خريل شوی وي نو په هغه باندې د پاکي کش کول لازم دي.

جاء في فقه الاسلامي و ادلته لدکتور زحيلي:

وأوجب الحنفية ما يزيد على قدر الأنملة، حتى يحقق التقصير من جميع الشعر، ويتيقن من استيفاء قدر الواجب، فيخرج عن العهدة بيقين.

د نارينه د پاره د ويښتانو تر کمولو خريل غوره دي په دليل د دغه حديث شريف:

ابن عمر رضى الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي «اللهم ارحم المحلقين. قال في الرابعة: والمقصرين»(متفق عليه)

يعني: ای الله ! په سر خريوونکو رحم وکړې درى ځله يې دا دعا وکړه په څلورم ځل يې وويل: ای الله په ويښتانو کمونکو رحم وکړې.

او د ښځې د پاره يوازې د يوې ګوتې د بند په اندازه د ويښتانو کمول دي

په دليل د دغه حديث شريف:

«ليس على النساء حلق، وإنما عليهن التقصير» (ابوداود و بيهقي ).

يعنې: په ښځو باندې د سر خرېل نشته بلکې هغوی لره د ويښتانو کمول دي.

**که څوک په حج کې د مرض له کبله سر نشي خرېلای**

که چيرته څوک د ويښتانو د کمزورتيا مشکل ولري او دا ويره ورسره وي که چېرته سر وخريي بيا به را شنه نشي نو د عمرې او حج په مراسمو که به څومره ويښتان کټ کوي او يا يې هيڅ کټ نه کړي که په دې باره معلومات راکړئ ؟

ځواب

بسم الله الرحمن الرحيم

**اول** –حلق (د سر خرېل )، تقصير ( د ويښتانو کمول ) واجب دي د احرام څخه د وتلو شرط دی.

خرېل يا د ويښتانو کمول دواړه صحي دي مګر د سر خرېل افضل او غوره دي.

أن الحلق أو التقصير, واجب, لكن الحلق أفضل؛ لأنه روي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم "دعا للمحلقين ثلاثا, وللمقصرين مرة واحدة

فقال: اللهم اغفر للمحلقين, فقيل له: والمقصرين, فقال: اللهم اغفر للمحلقين (بدائع الصنائع ).

**دويم** –د ويښتانو د كمولو اندازه به د ګوتې د بند په اندازه وي كه تر هغه كم وي نو خريل يې واجب دي او كه سر مخكې خريل شوى وي او يا د چا ويښتان نه وي هغه به يوازې پاكي ورباندې كښوي.

وَحَلْقُ الْكُلِّ أَوْلَى اقْتِدَاءً بِرَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – وَالتَّقْصِيرُ أَنْ يَأْخُذَ الرَّجُلُ أَوْ الْمَرْأَةُ مِنْ رُءُوسِ شَعْرِ رُبُعِ الرَّأْسِ مِقْدَارَ الْأُنْمُلَةِ ؛ وَلِأَنَّ الْحَلْقَ مِنْ أَسْبَابِ التَّحَلُّلِ وَكَذَا الذَّبْحُ عِنْدَنَا فِي حَقِّ الْمُحْصِرِ فَيُقَدِّمُ الرَّمْيَ عَلَيْهِمَا وَالذَّبْحُ لَيْسَ بِمُحَلِّلٍ عَلَى سَبِيلِ الْعُمُومِ وَلَا مِنْ مَحْظُورَاتِ الْإِحْرَامِ فَيُقَدَّمُ عَلَى الْحَلْقِ لِيَقَعَ فِي الْإِحْرَامِ وَيَجِبُ إجْرَاءُ مُوسَى عَلَى الْأَقْرَعِ عَلَى الْمُخْتَارِ وَلَوْ كَانَ عَلَى رَأْسِهِ قُرُوحٌ لَا يُمْكِنُ إمْرَارُ (تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ٢/١٥).

**دريم** –كه څوک معذور وي، په يقيني توګه د سر خريل ورته ضرر رسوي هغه دې ويښتان كم كړي، كچېرې د ويښتانو د كمولو اندازه موجود نه وي او يا خو حلق او تقصير دواړه امكان نلري نو هغه به فديه وركړي.

د كعب بن عُجْرَةَ رضى الله عنه قيصه مشهوره ده چې هغه د مرض له

کبله سر نه وو خریلی او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته د فدیه ورکولو حکم کړی وو چې په حق کې يې لاندې آیت کریمه نازل شوی دی.

وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ (البقره ۱۹۶ ).

فدیه دری شیان دي:

د حرم په پولو کې د پسه ذبحه او صدقه کول.

په حرم کې دری ورځې روژه نیول.

شپیتو مسکینانو ته نیم صاع غنم ورکول.

و الله سبحانه وتعالی اعلم

## د عمرې د ادا کولو خلاصه

کولای شئ د سفر د پیل پر مهال له خپل استوګنځي څخه احرام وتړئ او یا د سفر پر مهال چې د سفر د کافلې مسئول به تاسې ته وایي چې احرامونه وتړئ ځکه چې بیا تر میقات تیرېږئ.

کله چې مکې مکرمې ته ورسیدلئ او پخپلو اتاقونو کې ځای پر ځای شوئ د هغه وروسته به مسجد الحرام ته لاړ شئ.

بیا به کعبه شریفه پیدا کړئ او د کعبې شریفې د دروازې طرفه ته به ځان سم کړئ د دروازې چپ طرف ته حجرالاسود موقعیت لري هغې ته ځان برابر کړئ، د احرام څخه مو ښی لاس لوڅ کړئ داسې چې د ښي لاس د تخرګ نه به احرام وباسئ او په چپه اوږه به يې واچوئ، بیا به استلام وکړئ لکه څنګه چې پورته بیان شو، د استلام وروسته به طواف له همدې ځای پیل کړئ کله چې بیرته حجر اسود ته را ورسیږئ یو ګردش پوره کیږي په همدې توګه به اوه ګردشونه پوره کړئ.

کعبې ته لنډ لږ ګڼه ګوڼه وي چې طواف تقریباً په (۱۵-۲۰) دقیقو کې خلاصیږي د کعبې څخه لرې چې هلته ګڼه ګوڼه کمه وي د (۳۰-۴۰) دقیقو کې خلاصیږي او په دویم منزل او بام کې ګڼه ګونه نه وي هلته په (۵۰-۶۰) دقیقو کې خلاصیږي، غوره والی په اول منزل کعبې ته لنډ طواف کې دی. د طواف پر مهال به هر چا ته نه ګورئ بلکي فقط دعاګانې او ذکر به کوئ او خپل د زړه حضور به برابروئ څکه بیا مو چې کله مناسک ختم شي آرمان به کوئ چې ولې مو سم ادا نه کړل.

د طواف وروسته به په مقام ابراهیم کې دوه رکعته لمونځ وکړئ د هغه وروسته به د زمزم اوبه وڅښئ ( د زمزم د اوبو هرې چیرې نلونه موجود دي).

د هغه وروسته د صفا غوندۍ ته لاړ شئ که نابلده وئ له چا څخه پوښتنه وکړئ، د صفا غونډۍ ته دومره پورته شئ چې کعبه ووینئ وروسته خپل مخ کعبې ته کړئ دعا وکړئ او له همدئ ځای څخه سعی شروع کړئ د صفا نه تر مروا پورې یو ګردش پوره کیږي اوه ګردشونه به پوره کړئ د شنو چیراغونو سره به تیز ځئ. د سعې وروسته به د مروا له دروازې ووځئ دلته نږدې سلمانۍ دي هلته خپل سرونه وخریئ او نور به احرام لرې کړې عمره مو ختمه شوه.

الله سبحانه وتعالی مونږ ته ډیر آسانه شریعت رالیږلی دی وګورئ د عمرې ټول مناسک تقریباً په دوو ساعتونو کې ختمیږي نو مهمه دا ده چې په مناسکو کې بیړه ونه شي په کراره، وقار، اخلاص او د زړه په حضور تر سره شي.

# شپږم څپرکی

## د مدينې منورې زيارت

مدينه منوره د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د صحابه کرامو د هجرت ديار دی، د اسلامي حکومت د بنسټ ځای دی، په دې ښار کې د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو په لاسونو باندې جوړ شوی نبوي جومات دی، هغه جومات چې د هغه د ليدلو او زيارت لپاره سفر کول مستحب دی.

«وَلا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلاَّ إِلَى ثَلاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِ الْحَرَامِ، وَمَسْجِدِي، وَمَسْجِدِ الأَقْصَى». (البخاری:۱۸۶۴).

ژباړه: او دا چې د سفر بار به هيڅ جومات نه تړل کيږي مګر د مسجد الحرام، زما جومات (مسجد النبی) او مسجد الاقصی لپاره.

او هغه جومات چې په هغه کې يو لمونځ کول د زرو لمونځونو برابر ثواب لري.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:«صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه إلا المسجد الحرام».( الطبراني و صحيح ابن حبان ).

ژباړه: زما په جومات (مسجد نبوي کې ) لمونځ کول د نورو جماتونو د زرو لمونځونو بهتره دی (سوا د مسجد الحرام ) نه.

او د جناب نبی صلی الله علیه وسلم د قبر زیارت کول سنت او په نوافلو کې غوره عمل دی.

مصدر: (الموسوعة الفقهية ج ٢٤ ص ٨٣، فقه الاسلامي وادلته، فتح القدير ٢/٣٣٦، الدر المختار ٢/٣٥٣).

په حديث شريف کې راغلي « «من زارني بعد موتي فكأنما زارني في حياتي»( رواه الدارقطني وأبو يعلى والبيهقي وابن عدي عن ابن عمر، ورواه غيرهم، وتعدد طرقه يقوي بعضها بعضاً).

ژباړه: چا چې زما د وفات وروسته زما زيارت وکړ داسې دی لکه په ژوند يې زما زيارت او ليدنه کړې وي.

**د مسجد النبي د زيارت آداب**

د مديني منورې ښار ته به په پوره محبت، شوق او ذوق سره ننوځې پخپل اتاق کې به خپل سامان ځای پر ځای کړئ که غسل وکړئ ښه به وي او که نه اودس به وکړئ، مسواک به ووهئ کله چې د مسجد نبی دروازې ته ورسيدئ درود او السلام به ووايئ، د ننوتلو پر مهال به ښی پښه مخکې کړئ او دا دعا به ووايئ: [بسم الله والصلاة والسلام على رسول الله، اعوذ بالله العظيم وبوجهه الكريم، وسلطانه القديم، من الشيطان الرجيم، اللهم افتح لى ابواب رحمتك]

ژباړه: د الله په نوم سره، په رسول الله باندې درود او سلام، په لوى الله او د هغه په عزتمن روى او ازلي او هميشنى پاچاهى سره له رټل شوي شيطان څخه پنا غواړم، اى الله ! ته راته د خپل رحمت دورازې خلاصې کړې.

دغه وخت به د جومات فرش، آرايش او سينګار ته نه ګورئ بلکې په عاجزى سره به دوه رکعته تحية المسجد لمونځ وکړئ که ځاى وي ښه دا ده چې دغه دوه رکعته لمونځ په رياض الجنة کې ادا کړې چې د منبر او حجرې ( د رسول الله صلى الله عليه وسلم کور ) تر مينځ موقيعت لري ځکه دلته يې ادا کول مستحب دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي:«ما بين بيتي و منبر روضة من الرياض الجنة و منبرى على حوضي» (متفق عليه ).

ژباړه: زما د کور او منبر تر مينځ باغ دى له باغونو د جنت څخه او زما منبر به د قيامت په ورځ په حوض کوثر باندې وي .

د تحية المسجد د ادا کولو وروسته به د رسول الله صلى الله عليه وسلم مبارک زيارت ته ورشئ په ټيټ آواز سره به سلام او درود ووايئ:

«السلام عليكم أيها النبى ورحمة الله وبركاة، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إبْرَاهِيمَ، إنَّكَ حَمِيدٌ مَجيدٌ. اللَّهُمَّ

بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجْيدٌ» (رواه البخاري) .

او یا یوازې داسې ویل: «السلام علیکم أیهاالنبی ورحمة الله وبرکاة».

ورسته به لږ مخکې لاړ شئ د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه زیارت به وکړئ بیا به لږ مخکې لاړ شئ د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه زیارت به ادا کړئ او بیا به قبلې طرف ته مخ کړئ د دنیا او آخرت د فلاح د پاره به دعا وکړئ.

کوښښ به کوي چې څو یورې په مدینه منورې کې اوسیږئ پنځه وخت لمونځ به په مسجد نبوي کې په پابندی سره ادا کوئ.

د مبارکې روضې د زیارت څخه علاوه لاندې ځایونو زیارت مستحب دی:

۱- د جنة البقیع قبرستان زیارت کول چې هلته تقریباً د لسو زرو زیات صحابه کرام او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اهل بیت خاورو ته سپارل شوی دي. په خاصه توګه د جمعې او پنجشنبې په ورځ د مبارکې روضې د زیارت وروسته.

د زیارت پر مهال دا دعا کول «السَّلاَمُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لاَحِقُوْنَ وَيَرْحَمُ اللهُ الْمُسْتَقْدِمِيْنَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِيْنَ أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ» [صحیح مسلم: ۲ / ۲۷۱].

ژباړه: السلام علیکم ای اهل د دغه قبرونو له مؤمنانو او مسلمانانو، بې شکه که الله پاک و غواړي مونږ به هم حتمي ستاسو سره یو ځای شو، الله پاک دې زمونږ په پخوانیو او ورستنیو رحم وکړي، له الله پاک څخه د ځان او تاسې د پاره عافیت (د دنیا او آخرت د عذاب څخه نجات ) غواړم.

٢- د مسجد قبا زیارت کول خصوصاً د شنبې په ورځ مستحب دی کوم چې د مدینې په جنوب غرب کې موقعیت لري، په اسلام کې لومړی بنا شوی جومات دی، په دغه جومات کې لمونځ کول د عمرې برابر ثواب لري په دلیل د دغه حدیث شریف: «صلاة في مسجد قباء كعمرة» (رواه الترمذي وغيره،وهو صحيح).

او په دغه جومات کې د خپلې خوښې دعا کول پکار دي په خاصه توګه د پریشاني او غم څخه د نجات دعا ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دغه جومات کې د غم او مشکلاتو څخه د خلاصون دعا کوله (فقه الاسلامي وادلته ).

د قبا د جومات سره د «أريس» کوهي ده د هغه څخه اوبه څښل او اودس وربانديې کول کچیرې ممکن وي ځکه چې جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې کوهي اوبه څښلې او اودس یې وربانديې کړی دی.

٣- د أحد د شهیدانو زیارت کول، د احد د غره په لمن کې د حمزه رضی الله عنه په کېون د أحد د عزا اویا تنه شهیدان خاورو ته سپارل شوي

دي.

او همدارنګه د ابو ايوب انصاري رضی الله عنه د کور او نورو اماکن ليدل د استحباب په نيت نه بلکي د عبرت په نيت جايز دي. په داسې موقع کې چې په مسجد نبوی کې جماعت ورڅخه فوت نشي ځکه چې په مسجد نبوي کې د جماعت لمونځ زيات فضيلت لري.

## څو مهم وصيتونه

١- مسلمانه وروره او مسلماني خورئ ! نيت مو خالص د الله تعالی رضا وګرځوئ، له خپل رب (جل جلاله) سره مو داسې راز وکړئ چې ای زما ربه ! نور مې خپل اهل عيال پرېښود او ستا د لارې مسافر شوم په دې نيت چې ستا رضايت تر لاسه کړم، له ګناهونو څخه پاک شم او د دنيا او آخرت نيکمرغي مې په نصيب شي.

جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: الْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ. إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ، وَإِنِ اسْتَغْفَرُوهُ غَفَرَ لَهُمْ)) ( ابن ماجه ).

يعنې: حاجيان او عمره کوونکي د الله تعالی مېلمانه دي که هغوی الله تعالی ته دُعا وکړي هغه يې قبلوي (ځکه چې د مېلمه خواهش ضرور پوره کيږي ) او که هغوی د الله تعالی څخه عفوه وغواړي هغوی بخښل کيږي.

٢- ورونو او خويندو ! پر تاسې د عمرې يا حج د احکامو زده کول ضرور دي د مناسکوکتاب په غور ولولئ ځان ښه ورباندې پوه کړئ که په کوم ځای نه پوهېږئ له

بل چا څخه پوښتنه وکړئ.

۳- پام کوئ چې د جماعت لمونځ در څخه فوت نشي، د سهار د لمانځه د اذان څخه مخکې ځان حرم شریف ته رسوئ ځکه دغه وخت ګڼه ګونه نه وي هلته د سهار د آذان تر وخته پورې د تهجد لمونځ ادا کړئ.

په حرم شریف کې یو لمونځ د یو لکو لمونځونو ثواب لري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: [صَلاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَفْضَلُ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ صَلاةٍ فِيمَا سِوَاهُ ] (احمد. 14284و ابن ماجه 1406).

ژباړه: په مسجد الحرام کې یو لمونځ د نورو جوماتونو په پرتله د یو لکو لمونځونو اجر لري (یعني تقریباً د 55 کلونو د لمونځونو اجر لري ).

پام کوئ چې دغه لوی اجر له لاسه ور نه کړئ، هلته مې ځنې داسې کسان ولیدل چې دوی به پخپلو اتاقونه کې پراته وو او لمونځ به یې په جماعت نه کولو او دغه څو شمیرلې ورځې به یې په غفلت کې تیرولې.

۴- په مسجد الحرام کې څومره مو چې له وسه کیږي د قرآنکریم ډیر تلاوت کوئ ځکه دا د وحي او د قرآن د نزول ځان دی دلته د قرآن تلاوت خاص اثر لري.

ځنې علماء کرام په دې نظر دي چې په حرم شریف کې د هرې نیکی بدله په یو لکو ورکول کیږي، چا چې د قرآنکریم یو ختم وکړ داسې ثواب لري لکه یو لک ختمونه یې

چې کړي وي.

ځکه په حدیث شریف راغلي: بکل حسنة مائة ألف حسنة (رواه الحاکم او بیهقي ).

یعنې: په حرم شریف کې په هره نیکی باندې د یو لکو اجر ورکول کیږي.

که څه هم ددې حدیث په اسنادو کې د محدثینو څه خبرې شته خو حاکم صحیح اسناد بللی دی.

۵- په اتاق کې د خپلو ملګرو سره ښه سلوک کوه د هغوی احترام ساته ځکه هغوی د رحمن خدای مېلمانه دي.

د غیبت، بهتان، د نورو د سپکاوي او نورو ته د ضرر رسولو څخه ځان ساته او په دې پوه شه چې که په حرم شریف کې هر ښه کار لوی ثواب لري همداسې بد کار او ګناه هم د عدد له مخې نه بلکې د کیفیت له مخې لوی جرم بلل کیږي. لقول الله تعالی :وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ.

۶- مسلمانې خویندې به یوازې د احرام پر مهال خپل مخ لوڅوي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړی دی چې: ینهی النساء فی احرامهن عن القفازین والنقاب (رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ښځو ته حکم کوي چه په احرام کې مخ مه پټوي او دستان له لاسونو لرې کړئ).نور به د خپل اسلامي حجاب پوره رعایت کوي.

۷- تر خپله وسه پورې نفلي عمرې او طواف کوئ او خپل وخت غنیمت وګڼئ.

د بیت الله څخه طواف ستر عبادت دی نو د طواف پر مهال به د زړه حضور د الله طرف ته متوجه کوئ، نورو ته د ضرر رسولو څخه به ځان ساتئ.

۸- د حج پر مهال او یا په مکه، مسجد الحرام او مدینه منوره کې به فلم برداري او تصویرونه نه اخلئ ځکه چې د ساه کښو تصویر اخیستل سخته ګناه لري.

عبدالله ابن مسعود وایي: له پیغمبر صلى الله علیه وسلم نه مې وارویدل چې فرمایل یې:«إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ »(متفق علیه ).

ژباړه: د قیامت په ورځ له خلکو څخه سخترین عذاب د تصویر جوړونکو دی.

۹- د ځنو هیوادونو ښځې صحي اسلامي حجاب نه مراعاتوي د هغوی څخه به مو خپل نظر ساتئ، او همدارنګه مسلمانې ښځې به د سړیو څخه خپل نظر ساتي ځکه چې دا د الله تعالى حکم دی.

[قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ] (او مؤمنانو ته ووایه چې: خپلې سترګې ټیټې ( د نا محرمو څخه خپل نظر وساتي).

[وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ].

ژباړه:او مؤمنانو ښځو ته ووایه چې: خپلې سترګې ټیټې ( د نا محرمو سړیو څخه خپل نظر وساتي).

### ۱۰- په اخلاص سره له ټولو ګناهونو توبه کول.

په پای کې دا وصیت کوم، چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ تر څو پر تاسې رحم وشي.

وأطيعوا الله والرسول لعلكم تُرحمُون